بسم الله الرحمن الرحيم

﴿وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ الَّذِي ارْتَضَىٰ لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُم مِّن بَعْدِ خَوْفِهِمْ أَمْنًا ۚ يَعْبُدُونَنِي لَا يُشْرِكُونَ بِي شَيْئًا ۚ وَمَن كَفَرَ بَعْدَ ذَٰلِكَ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ﴾

د حزب التحرير
ولايه افغانستان
مطبوعاتي دفتر

حزب التحرير
HIZB UT TAHRIR

شنبه 3 ذي‌القعده، ۱۴۴۵هـ | 11/05/2024م | ګڼه: ح.ت.افغ 23/۱۴۴۵


**مطبوعاتي اعلاميه**

## په بېلابېلو ولايتونو کې د وروستيو سيلابونو اړوند د حزب التحرير – ولايه افغانستان د تسليت او غمشريکۍ پيغام

د افغانستان په شمالي او مرکزي ولايتونو کې د فصلي بارانونو او سيلابونو له امله تر درې سوو زيات کسان وژل شوي او لسګونه نور لادرکه دي. د دې ترڅنګ ډېر شمېر کورونه او کرنيزې ځمکې ويجاړې شوې دي. د حزب التحرير – ولايه افغانستان مطبوعاتي دفتر د دغو سيلابونو له امله زيانمنو شوو کسانو سره خپله ژوره غمشريکي او همدردي ښيي او د الله سبحانه و تعالی له دربار څخه غواړي چې وفات شوي د شهيدانو له ډلې حساب کړي؛ ټپيانو ته بيړنۍ او بشپړه روغتيا او زيانمنو ته جميل صبر ورکړي.

له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي:

**«الشّهداء خمسة المطعون و المبطون و الغرق و صاحب الهدم و الشهيد فی سبيل الله عزّ و جلّ» (متفق عليه)**

***ژباړه:*** *پنځه کسان شهيدان دي؛ څوک چې له طاعون يا وبا ناروغۍ مړه شي، څوک چې د ګېډې له درده مړه شي، څوک چې په اوبو کې ډوب شي، پر چا چې کوم ځای راړنګ شي او مړ شي او د الله عزّ و جلّ په لار کې شهيد.*

په دې کې هيڅ شک نشته چې ژوند د ابتلاء او مصيبتونو ځای دی او هر مصيبت چې د الله سبحانه و تعالی له لوري پر يوه قوم راځي، حکمت لري او د هغه پر وړاندې د مومن غبرګون بايد صبر، توکل او پر الله سبحانه و تعالی باور وي او بايد له دغې حادثې لازم عبرت واخلي.

د دې ترڅنګ، د تدابيرو نيول او د مسلمانانو د چارو سم سمبالول د هغوی پر حاکم، چې مسوليت يې لري، واجب دي. دا د حاکم مسوليت دی چې هم د پېښې تر پېښېدو وړاندې د خلکو د ځان او مال د ژغورنې لپاره پلان ولري او هم تر پېښې وروسته قربانيانو ته د رسيدګۍ لپاره اړينه او هر اړخيزه هڅه وکړي. له شک پرته چې د دغه ډول پېښو يو عامل د پانګوال نظام پلي کول او د ځمکې پر سر د الله سبحانه و تعالی د دين د حاکميت نشتون دی؛ چې په پايله کې يې د ژوند چاپېريال فاسد شوی او د نړۍ په کچه د اقليمي بدلونونو او د ځمکې د تودوخې شاهدان يو. د ملګرو ملتونو د راپور پر بنسټ، افغانستان په نړۍ کې د ګلخانه‌اي ګازونو په توليد کې ۰،۰۸ سلنه برخه لري خو د اقليمي بدلونونو په سبب ډېرو زيانمنېدونکو هيوادونو کې بيا شپږم ځای لري او په افغانستان کې د اوبو او چاپيريال ساتنې وضعيت يوه پېچلې بڼه غوره کړې. له بده مرغه د حکامو د نه پاملرنې او د اساسي بېخ‌بنسټونو د نشتون په سبب هر کال دا ډول پېښې کېږي او باران چې د الله سبحانه و تعالی رحمت دی، د خلکو د له منځه وړلو وسيله شوې چې ځان، مال، کور او کرنيزې ځمکې يې له منځه وړي.

**«الإِمَامُ رَاعٍ وَهُوَ مَسْئُولٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ.» متفق عليه.**

**ژباړه: امام (حاکم) شپون (د چارو سمبالوونکی) دی او هغه د خپل رعيت پر وړاندې مسول دی.**

اوس چې د افغانستان پر خلکو دا مصيبتونه راغلي، هيله لرو چې ټول مسلمانان په ټولو کچو کې يو بل ته لاس ورکړي او د دغې پېښې د قربانيانو او زيانمنو مرستې ته راودانګي.

﴿الَّذين إذا أصابتهم مصيبة قالوا إنّا لله و إنّا إليه راجعون(١٥٦) أولئک عليهم صلوات من ربّهم و رحمة و أولئک هم المهتدون﴾ [بقره: ١٥٦-١٥٧]

**ژباړه:** «(صابران) هغه کسان دي، چې کله مصيبت ورته ورسېږي نو دوی وايي: موږ د الله يو او د هغه لوري ته ورستنېدونکي يو. پر دوی د خپل پالونکي له لوري درود او رحمتونه دي او همدوی پر سمه لار روان دي.»

## د حزب التحرير – ولايه افغانستان مطبوعاتي دفتر